د افغانستان بانک

د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز

د قانون او مقرراتي چارو د رعایتولو مرستیالیت

د ځانګړو غیرمالي حرفو او تشبثونو ارشد مدیریت

نېټه: ۲/۹/۱۴۴۷

نېټه: ۲/۹/۱۴۰۴

شمېره: ۲۹۵    محرم ☐    عاجل ☐

۱۲۴

بسم الله الرحمن الرحیم

**د عوایدو او ګمرکونو د قدر وړ معینیت مقام ته!**

د عوایدو د قدر وړ لوی ریاست د پام وړ!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

**موضوع:** دې مرکز ته د مالیاتي محاسبینو د راپور ورکولو پروسې د پیل په اړه

د مالي اقداماتو کاري ډلې د سپارښتنو او له پیسو وینځلو سره د مبارزې اصولو او مقرراتو پر بنسټ، ځانګړې غیرمالي حرفې او تشبثونه په ځانګړي ډول مالیاتي محاسبین دافغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز ته له راپور ورکونکو مراجعو څخه ګڼل کیږي. دا چې د مالیاتي محاسبینو فعالیتونه له پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې له اړخه له لوړ ګواښ سره مخ دي او ددې لپاره چې له یادو سکتورونو څخه ځینې کړی ناوړه ګټه پورته نه کړي، اړینه ده چې یاد سکتورونه د افغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شننې له مرکز سره د لویو نغدو او شکمنو مالي معاملو (STR&LCTR) راپورونه شریک کړي.

له معمول سره سم د یادو سکتورونو مسؤلینو د ثبت، یوزر ورکولو او د ښوونیزو پروګرامونو لړۍ ددې مرکز د مسؤلینو لخوا د مالیې وزارت د عوایدو د قدر وړ لوی ریاست په همغږۍ او همکارۍ سره بشپړ شوه.

نو له همدې امله هغه مالیاتي محاسبین چې د عوایدو د قدر وړ لوی ریاست لخوا دې مرکز ته ور پېژندل شوي؛ خبر ورکول کیږي چې د دغه متحد المال د صادریدو له نېټې څخه وروسته دې:

۱ـ مشتریانو ته د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له هغوی سره د قراردادونو راپور؛

۲ـ د مشتریانو هغه لوړې نغدې معاملې چې ارزښت یې د (۱۰۰،۰۰۰) سل زره افغانۍ یا له دې څخه پورته، یا یې معادل په نورو بهرنیو اسعارو کې وي او د لوړو نغدې معاملو شرایط یې پوره کړي وي؛ او

۳ـ د ټولو شکمنو معاملو او فعالیتونو راپور د دریو ورځو په جریان کې له فورم سره سم دافغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شننې له مرکز سره شریک کړي.

د افغانستان بانک د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز له الله ﷻ له دربار څخه ستاسو د لا بریاوو غوښتنه کوي. **والسلام**

**نور احمد آغا**

**دافغانستان بانک د ټولو رئیس**

۱۴۴۷/۹/۲

کاپی: د مالیاتي محاسبینو مسؤلینو ته